**بسم الله الرحمن الرحیم**

# د جولاني د نیولو پر سر جایزې لغوه کول

**(ژباړه)**

**خبر:**

د امریکا د بهرنیو چارو وزارت یوه لوړپوړي چارواکي جمعه اعلان وکړ چې د هیئت تحریر الشام د رهبر، ابو محمد الجولاني د نیولو په برخه کې مرسته کوونکو معلوماتو پر سر ټاکل شوې لس ملیونه ډالره جایزه به لغوه شي. دغه چارواکي زیاته کړه چې جولاني اوس د سوریې د «باالفعل حاکم» په توګه پېژندل کېږي.

**تبصره:**

غربي هیوادونه په چټکۍ له جولاني سره د لیدو او له هغه څخه لازمو تضمینونو اخیستلو لپاره اقدام کوي. اوس ګورو چې امریکا کوم اقدامات کړي او د جولاني د کړنو او شخصیت په اړه نظر ورکوي. دوی ویلي چې د قضاوت معیار به یې د جولاني خبرې نه، بلکې د هغه کړنې وي؛ په پایله کې یې نن د هغه په اړه د معلوماتو پر سر جایزه لغوه کړه. امریکا د تل پشان داسې تضمینونه غوښتي چې ډیر د لږکیو په ساتنه، د ښځو حقونو او ورته مواردو پورې اړه لري. امریکا دغه راز له ترکیې او سعودي مرسته غواړي تر څو ډاډ ترلاسه کړي چې د سوریې نوی نظام به د امریکا تر کنټرول او نفوذ لاندې وي.

نو اسلامي امت، او په ځانګړي ډول د شام خلک باید خپل ریښتینی مقام او قدرت وپېژني. الله سبحانه و تعالی دوی ته د شام د طاغوت له ولکې څخه تر خلاصون وروسته دا ستر نعمت ورکړی. د دوی مکلفیت اوس دا دی چې د نورو پر ژمنو نه، بلکې پر الهي رسۍ منګولې ټینګې کړي او خپل مسیر ته دوام ورکړي چې نوي حکام یې د حق پلي کولو ته اړ باسي. دغه خلک د نړیوال نظم پر وړاندې درېدلی او هغوی یې د دغه بدلون منلو ته اړ ایستلی شو؛ نو د دغه مسیر د دوام وړتیا هم لري. د شام خلک باید یوازې الهي شریعت ومني او له ملي پولو، قومي تفکراتو او نړیوال نظم څخه لرې شي. په دې توګه، که الله کول، د شام خاوره یو ځل بیا د راشده خلافت مرکز کېدلی شي.

**لیکوال: المستنصر بالله الحمصی**